مطبوعاتي اعلاميه

**یوناما د غربي قدرتونو وسیله او د جاسوسی ځاله ده؛ په افغانستان کې یې ماموریت باید ژر تر ژره ختم شي**

د ملګرو ملتونو امنیت شورا د رایو په اتفاق د یوه پرېکړهلیک په لاسلیک کولو سره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستیالۍ دفتر (یوناما) ماموریت یو کال نور هم تمدید کړ. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دورهیي رییس په افغانستان کې د یوناما د شتون دوام «اړین» وباله او ویلي یې دي چې .نړیواله ټولنه له طالبانو سره د «تعامل زیاتولو او باور جوړونې» په لټه کې ده

د حزب التحریر-ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د یوناما د ماموریت تمدید غندي او دا یو شیطاني او خبیثانه ماموریت ګڼي چې دوام یې هم د افغانستان د خلکو لپاره خطرناک دی او هم اوسني حکام .د اسلام له بشپړ پلي کولو منحرفوي

د یوناما ماموریت په حقیقت کې په افغانستان کې له اشغال او د لویو قدرتونو له سیاست سره تړلی دی.کله چې افغانستان اشغال شو؛ یوناما په ۲۰۰۲م کال کې د امنیت شورا له لوري په افغانستان کې د سیاسي، اقتصادي او ارزښتي اصلاحاتو راوستلو په موخه فعالیت پیل کړ. یوناما په حقیقت کې د جمهوریت تېر ۲۰ کاله د استعمار سیاسي او فرهنګي مټ و او د سیکولر کولو پروګرامونو، د ډیموکراسۍ پر بنسټ سیاسي اصلاحاتو او د اسلامي ارزښتونو تضعیفولو لپاره یې ډېرې هڅې وکړې. پکار خو دا وه چې د امریکا او ناټو تر شرمناکې ماتې وروسته د اشغالګرو د نورو سیاسي او فرهنګي سازمانونو او ماموریتونو پشان د یوناما لمن هم ورټوله شوې وای. خو نه یوازې دا چې دغه خطرناک ماموریت دوام وکړ، بلکې نن ورځ یوناما په یوه لوی چتر بدله شوې چې ۲۰ ادارې، صندوقونه او پروګرامونه پکې شامل دي او د بشردوستانه مرستو په نامه د لیبرال ارزښتونو ترویج .او ډیموکراټیکو سیاسي اصلاحاتو ته کار کوي

مونږ ته تر ټولو ډېره خواشینوونکې خبره دا ده چې د افغانستان د حکومت رسمي ویاند د یوناما د ماموریت د تمدید هرکلی کړی. هغه ملي تلویزیون ته وویل: «ان‌شاءالله چې د افغانستان په خیر به وي؛ ځکه افغانستان له هیوادونو او سازمانونو سره اړیکو ته اړتیا لري. په دې برخه کې یوناما د اړیکو ټینګوونکې کېدی شي.» په داسې حال کې چې ملګري ملتونه، ماموریتونه او ادارې یې د جاسوسۍ په ځالو پورې تړلي او د غربي قدرتونو سیاسي وسیلې دي چې فعالیت یې له شر او بدبختۍ پرته بله پایله نه لري. نو له ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو بنسټونو سره هر ډول اړیکه او د .هغوی په اړه مثبت لید یوه ستره سیاسي تېروتنه ده چې خطرناکې پایلې لري

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ ۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الْآيَاتِ ۖ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ [آل عمران:118]**

*ژباړه: «اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! له ځانونو (مسلمانانو) پرته بل څوک د رازونو محرم مه نیسئ؛ دوی ستاسو په حق کې له هیڅ ډول شر او فساد څخه دریغ نه کوي؛ هغوی (په زړه کې) ستاسو لپاره د رنځ او کړاو هیله لري؛ د دوی دښمني یې له خولو (خبرو) څخه ښکاره ده او څه یې چې په زړونو کې دي تر دې (ښکاره دښمنۍ) لوی دي؛ موږ تاسو ته نښانې بیانوو که تاسو له تعقل څخه کار واخلئ »*

د حزب التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر